# یوشمیررسنیو ولیکل :دښاغلی حامد کرزی دجمهوری ریاست مشروعیت تر پوښتنی لاندی دی !

دعزیزاحمد خوارمل لیکنه

کوم وخت چې دنظار دشورا وتلی قوماندان ډاکټر عبدالله ،دشمالی ټلوالی دخوادافغانستان دجمهوری ریاست دټول ټاکنی و دی لوړمقام ته نوماندی سوو اودټول ټاکنی دسیالی په لمړی پړاوکې دوهم ځای یې ترلاسه کړ،اوپه څرګنده توګه سره دټول ټاکنی‌لمړی پړاوبهیردیولړتیروتنو،درغلیواو نیمګړتیاودکبله و دوهم پړاوته ور واوښتی او ښاغلی عبدالله ددوهم پړاو دپیل دنیټی څخه یې یوشمیر شرطونه یې ودولت ته وړاندی کړاو دولت هم دهغه شرطونه یې ونه منل اوپه پای کې عبدالله په یوی مطبوعاتی کنفرانس کې یې اعلان وکړ او وی ویل چې دجمهوری ریاست دټول ټاکنی د دوهم پړاوپه بهیرکې برخه نه اخلم، ددوهم پړاودګډون څخه لاس په سریم او دټول ټاکنی د دوهم پړاوڅخه ځان ګوښه کوم ،ددی مطبوعاتی خبر سره سم ،دافغانستان دجموری ریاست دټول ټاکنی کمیسون سمدلاسه اعلان وکړ چې حامد کرزی دافغانستان دجمهوری ریاست دټول ټاکنی نوماندی په دوهم پړاوکې ګټونکی دی اودمنل سویونورمونواوپرنسپونوپر بنسټ دافغانستان جمهور ریس دی .وروسته ددی اعلان څخه په داهسی حال کې چې دنړی دشاخواڅخه په لمړی سرکې دستروهیوادنودمشرانودخوا دافغانستان داسلامی دولت دجمهوری ریاست دڅوکی اومقام دلاسته راوړلوپه مناسب وښاغلی حامد کرزی ته دمبارکی اوتبریکی پیغامونه په پرله پسی توګه سره ولیږل سول ،اوهمدارنګه دافغانستان جمهور ریس وژورنالستانوته دخپل دریځ په بیانولوسره په داګه کړ چې دده نوی حکومت به د ملی مشارکت حکومت دټولوملیتونوداستازوپه ګډون سره جوړیږی او ټینګاریې پری وکړ چې یوداهسی حکومت به دټولوپیاوړیو اوپوه افغانانو په برخه اخیستنی اوګډون سره به رامنځته کړی .

دخبری رسنیودرپوټونوپربنسټ ښاغلی حامد کرزی وروستی دیوی ورځې نه چې دافغانستان دجمهور ریس په توګه دټول ټاکنې دکمیسون دخوا وپیژندل سوبیا ټاکل سوی جمهور ریس اعلان یې وکړ : دملی مشارکت حکومت به دټولوملیتونو په ګډون سره رامنځته کړم . اوپه راتلونکی حکومت کې د بنسټیزواصلاحاتوپه رامنځته کولوباندی یې ټینګار وکړاوزیاته یې کړه : په افغانستان کې داداری فساد په ورکولو اوپه دمنځه وړلواودسراسری امنیت په رامنځته کولوکې به زیار اوهاندوباسم .

په همدی ډول دټول نړی څخه په دا څوتیرورځوکې دمبارکی اوتبریکی پیغامونه دکرزی په پته او ادرس سره ولیږل سو اوهمدارنګه دا پروسه ادامه لری .

درسنیودیوبل رپوټ پربنسټ باراک اوباما دامریکا جمهور ریس په یوه تیلیفونی اړیکه کې چې دکرزی سره یې درلود دخپل ملګری نه یې غوښتی دی چې داداری فساددمنځه وړلودپاره دی یو واکمن اوباصلاحیته کمیسون وټاکی ترڅوچې په افغانستان کې دفساد په وړاندی په ټینګه سره مبارزه وکړی ، اوهمدارنګه باراک اوباماپه خپل دغه تیلیفونی اړیکه کې دامریکا اودافغانستان ترمنځ داړیکودیوی نوی پړاواودورغوښتونکی سوی دی .

په همدی ډول دنیویارک ټایمزدیولیکل سوی رپوټ پربنسټ باراک اوباما دکرزی څخه یوه بله ستره غوښتنه یې هم کړه ده ، هغه داچې هغه کسان چې په افغانستان کې دمخدره توکوپه قاچاق اوتجارت باندی تورن اوککړدی ، لکه دقندهار دولایتی شورا ریس احمد ولی کرزی دښاغلی کرزی ورور ،محمد فهیم قسیم چې په تیرووختونو کې د دفاع وزیروو اودا اوس مهال کرزی صاحب خپل مرستیال یې ټاکلی دی دواړه دامریکا ددولت په تورلیست کې ترڅارنی اوپلټنی لاندی دی او په همدی ډول دامریکا د دولت په تورلیست دریم کس پهلوان عبدالرشید دوستم دی چې هغه هم دامریکا ددولت په تورلیست کې ترڅارنی اوپلټنی لاندی دی ،اوهماد ډول دبشری حقونودنړیوال سازمان دمستندو اسنادو اوشواهیدوله مخې چې دشمال په سیموکښې پهلوان عبدالرشید دوستم دطالب ځواکونو دتسلیم سوی ډیرشمېرجنګیالیوپه وژنوباندی چې بیله محاکمی څخه طالبی ځواکونه یې وژلی اوترورکړی دی په دی تور اوجنایت تورن دی ، دامریکا دولت د دی دریو کسانودسپارلو غوښتونکی دی چې دامریکا په محاکمواویادملګروملتونوپه نړیوال محاکمه کې چې په قاچاق ،وژنو اونورو جنایتونوپه تورککړاوپه جنایت تورن دی ، ددی کسانو ورسپارل ومحکمی ته دادامریکایی جګپوړوچارواکواو داروپایی جګپوړوچارواکو غوښتنه ده چې دوی دی بایدمحاکمه سي ، دیوی لوری نه ددی غوښتنوعملی کیدل دحامد کرزی دواک اوتوان څخه لیری ښکاری که عملی اوترسره یې کړی کیدی سی چې نوی دولت دیوی نوی کړکیچ اوډیروستونزوسره مخامخ سی ؟اودبلی لوری نه ددی دروکسانواویا په تورلیست دنوروکسانو دسپارلوموضوع که عملی اوترسره یې نه شی ؟ بیا به نو دښاغلی کرزی دولت دامریکا ددولت پوځی اومالی ملاتړ دځانه سره ونه لري دی .

درسنیودیوبل رپوټ پربنسټ دروسیی جمهور ریس دیمتری میدودوف هم دیوپیغام په لیږلوسره دافغانستان دجمهوری ریاست ومقام ته دحامد کرزی بل ځل ټاکنی ته یې مبارکی اوتبریکی ویلی دی ،میدویدوف په خپل دغه پیغام کې ویلی دی : دافغانستان هیواد دی دیودموکراتیک مستقیل هیواد په توګه دافغانستان دټولنیزاواقتصادی مطلوب وضعیت سره رامنځته سي او دروسیی هیواددی ته تیار دی چې ددی هیوادسره مرسته وکړی .

په همدی ډول دامریکا دبهرنی چارو وزیره میرمن هیلاری کلینتون هم دحامد کرزی دټاکل کیدوپه مناسبت مبارکی ویلی ده اودښاغلی کرزی نه یې ملاتړ اعلان کړه اوهمدارنګه هیلاری کلینتون دعبدالله عبدالله په اړه یې ویله ده : که څه هم عبدالله دټول ټاکنې ددوهم پړاوڅخه ځان یې کوښه کړ اودافغانستان خلک خپل هوټ یې ده ته ورکړ اوخلکو دهغه نه یې ملاتړ وکړ .

درسنیودرپوټ پربنسټ دملګروملتونوسرمنشی بان کی مون هم په یوه اعلامیه کې چې د ملګروملتونودسازمان دخوا په کابل کې خپور سوی وو ددی سازمان دخواوکرزی ته دهغه دټاکل کیدوپه مناسبت مبارکی اوتبریکی ویل سوی دی .

همدارنګه په همدی حال کې دالمان (جرمنۍ) داشپیګل اونیزه خپرونه په اشاری سره دحامد کرزی دټاکل کیدوپه اړه دافغانستان دنوی جمهور ریس په توګه اودټول ټاکنوډول اوترسره سوی کړنی یې نه خوشحالیدونکی یې وبلل ، په همدی ډول ددی اونیزی ددی

لیکنی پربنسټ چې لیکلی یې دی : دحامد کرزی دا ډول ټاکنه په راتلونکی کې دامریکا ودولت ته به ډېری ستونزی رامنځته کړي .
همدارنګه په دی ځوتیرو ورځوکښې دافغانستان د دولت دمشروعیت بحثونه درسنیواودامریکا د دولت په اصلی اوښنسټیزو ستونزوباندی اووښتی دی .
په داهسی حال کې چې لویدیز په افغانستان کې ویوی نوی پړاوته خپل ځان جوړه وی او تیاره وی ،طالبانودیوی بیانی په خپرولوسره ،حامد کرزی یې دلویدیز دلاس نانزکه او(ناوه کی ) او لاس پوځی یې وبلل ، اوطالبانو دټول ټاکنی د دوهم پړاو دبهیردلغوه کیدوپه هکله یې زیاته کړی ده : اوسمهال دغه مسله په ثبوت رسیدلی دی چې دافغانستان په هکله پریکړی په وا شینګټن اولندن کې نیول کیږی او په کابل کې اجرا اوعملی کیږی .
دطالبانوپه دی بیانی کې راغلی دی : ډېرحیرانه ونکی اوتعجبونکی مسله خو دا دی چې یوازی دوې- ۲-اونی مخکې ، په ټول ټاکنوکې دتیروتنواودرغلیو خبری کیدلی اوپه دی تیروتنواودرغلیوکې دکرزی اودعبدالله درول اوبرخی اخیستنی څخه ډېر ویل کیدل اما دهمدی تیروتنو ، درغلیو اوناچله اوتقلبی هوټونوپربنسټ حامد کرزی دجمهور ریس په توګه وټاکل سو او پسله هغه نه سمدلاسه ډېرژرپه لندوخت کې دواشینګټن اولندن څخه دمبارکی اودتبریکی پیغامونه وښاغلی کرزی ته ورلیږل سول . /